د افغانستان اسلامي امارت
د تخنیکي او مسلکي زدکړو اداره
د تخنیکي او مسلکي چارو معاونیت

امارت اسلامی افغانستان
اداره تعلیمات تخنیکی و مسلکی
معاونیت امور تخنیکی و مسلکی

# د تخنیکي او مسلکي زده کړو په ښوونیزو برنامو کې د راستانه شویو افغان کډوالو د زده کوونکو او زده کړیالانو د جذب کړنلاره

# طرزالعمل جذب دانش آموزان و محصلین مهاجرین عودت کننده اتباع افغانستان در برنامه های آموزشی اداره تعلیمات تخنیکی و مسلکی

کال: ۱۴۰۲/ ۱۴۴۵

سال: ۱۴۰۲/ ۱۴۴۵

بِسْمِ اللّهِ الرَّحْمَنِ الرَّحِيمِ، الحمدلله رب العلمين والصلوه و السلام علی سیدالمرسلین و علی آله و اصحابه اجمعین.

## لومړی څپرکی

## عمومي احکام

**د طرزالعمل د ترتیب موخه**

**لومړۍ ماده**

دا طرزالعمل د لاندې اهدافو د ترلاسه کولو په موخه ترتیب شوی دی:

1. د هیواد د راستانو شویو کډوالو لپاره په تخنیکي او مسلکي ښوونیزو برنامو کې د زده کړو زمینه برابرول.
2. د راستانه شویو افغان کډوالو لپاره د تخنیکي او مسلکي ښوونیزو چارو تنظیم او د شمولیت په برخه کې یې د اسانتیاوو او ساده شرایطو ایجاد.
3. د راستانه شویو افغان کډوالو لپاره د اشتغال او کارموندنې په موخه په موقتو استوګنځایونو او ښوونیزو مرکزونو کې د حرفوي مهارتونو ترلاسه کولو زمینه برابرول.
4. د راستانه شویو افغان کډوالو د ځانګړو زده کړو (روښانه زړونو او نه اوریدونکو) لپاره د زده کړو زمینه برابرول.

**اصطلاحات**

**دویمه ماده**

**په دې طرزالعمل کې درج شوي اصطلاحات لاندې مفاهیم وړاندې کوي:**

**راســتانه شــوي:** هغه هیوادوال چې له بهرنیو هیوادونو څخه افغانستان ته راګرځېدلي وي.

**د کډوالۍ سند:** هغه رسمي سند دی چې د اړوندو ادارو لخوا راستانه شویو ته ورکړ شوی او د هغو کډوالي ثابتوي.

**د راســتانه شــویو تعلیمي ســند:** هغه ســند دی چې د اړوند بهرني هیواد د تعلیمي مراجعو لخوا راســتانه شــوي کډوال ته ورکړ شوی وي.

**موقت استوګنځی:** هغه ځای دی چې د کډوالو او راستنیدونکو چارو وزارت لخوا د راســتانه شــویو هیوادوالو د اوســیدو لپاره په موقتي ډول تنظیمیږي.

بِسْمِ اللّهِ الرَّحْمَنِ الرَّحِيمِ، الحمدلله رب العلمین والصلوه و السلام علی سیدالمرسلین و علی آله و اصحابه اجمعین.

## فصـــل اول

## احکام عمومی

**منظور از ترتیب این طرزالعمل**

**ماده اول**

این طرزالعمل به منظور تحقق اهداف ذیل ترتیب گردیده است:

1- فراهم ســـازی زمینه برنامه های تعلیمات تخنیکی و مسلکی برای مهاجرین عودت کننده اتباع کشور
2- تنظیم امور تعلیمـات تخنیکی و مســـلکی و ایجـاد ســـهولیت های خاص و ســاده شــرایط شــمولیت برای مهاجرین عودت کننده اتباع افغانستان.
3- زمینه ســازی فراگیری مهارت های حرفوی در اســکان موقت و مراکز آموزشی به منظور اشتغال و کاریابی زود رس برای مهاجرین عودت کننده اتباع افغانستان.
4- زمینه سازی تعلیمات خاص ( روشندلان و ناشنوایان ) برای مهاجرین عودت کننده اتباع افغانستان.

**اصطلاحات**

**ماده دوم**

**در این طرزالعمل اصــطلاحات مندرج مفاهیم ذیل را افاده می کند:**

**عودت کننده گان** : آنعده هموطنان که از کشـــور های خارجی به افغانستان بازگشت میکنند.

**ســند مهاجرت**: به ســند رســمی گفته میشــود که از طریق ادارات ذیربط برای شــان اعطا شــده و مهاجرت شــان را ثابت می نماید.

**ســند تعلیمی عودت کننده گان**: به ســندی گفته میشــود که از طریق مراجع تعلیمی کشـــور خارجی مربوطه برای مهاجرین عودت کننده اتباع کشور صادر شده باشد.

**اسکان موقت**: مکان است که جهت بود و باش موقت برای هموطنان (مهاجرین عودت کننده ) از طریق وزارت محترم امور مهاجرین و عودت کننده گان تنظیم میگردد.

**ښوونيز مرکزونه:** ټول تخنيکي، مسلکي او حرفوي ښوونځي او انسټيټوټونه د تخنيکي او مسلکي زده کړو اداري په ښوونيزو مرکزونو کې شامليږي.

**حرفوي زدکړې:** په يو لنډ زماني محدوديت او ځانګړې حرفه کې د ځانګړو مهارتونو ښوونې ته وايي چې د پوهې او تجربې په ترلاسه کولو منتج کيږي او د يو يا څو مهارتونو په چوکاټ کې د لوستو، کم لوستو او نالوستو کسانو د زده کړو په پای کې شاګردانو ته رسمي تصديق پاڼې ورکول کيږي.

## دويم څپرکی

### د تخنيکي او مسلکي زده کړو اداري په ښوونيزو مرکزونو کې د راستانه شويو افغان کډوالو د جذب شرايط

### د تأييد شويو تعليمي اسنادو لرونکي

#### دريمه ماده

هغه راستانه شوي افغان کډوال چې د اړوندې مرجع تأييد شوي تعليمي اسناد ولري، د هغو د تعليمي سوابقو او شته اسنادو او اصولو له مخې له ارزونې او معادلت وروسته ورته د تخنيکي، مسلکي او حرفوي زده کړو زمينه برابريږي.

### د ناتأييد شويو اسنادو لرونکي

#### څلورمه ماده

د هغو راستانه شويو افغان کډوالو لپاره چې تعليمي اسناد يې د اړوندو مراجعو لخوا بشپړ او تاييد شوي نه وي او يوازې د کډوالۍ اسناد ولري، د لاندې شرايطو له مخې ورته د تخنيکي، مسلکي او حرفوي زده کړو زمينه مساعديږي:

1. د کډوالۍ او راستنيدونکو چارو وزارت لخوا د کډوالۍ تأييد شوي اسناد ولري.
2. د افغانستان د تابعيت تذکره/پېژندپاڼه ولري.
3. د تخنيکي، مسلکي او حرفوي په مختلفو ښوونيزو دورو کې د داوطلبانو عمر په پام کې نه نيول کيږي.
4. هغه راستانه شوي افغان کډوال چې د افغانستان د تابعيت تذکره ونلري، د هغوی د کډوالۍ د تأييد شويو اسنادو له مخې ورته د اړوندو زده کړو زمينه برابريږي او د تذکرې

**مراکز آموزشی:** در اداره تعلیمات تخنیکی ومسلکی مراکز آموزشی شامل تمام مکاتب وانستیوتهای تخنیکی، مسلکی و حرفوی می باشد.

**آموزش های حرفوی:** به معنی آموزش مهارت های خاص در یک حرفه خاص و محدودیت زمانی کوتاه که منتج به کسب دانش و تجربه میگردد که در ختم آموزش برای شاگردان تصدیق نامه رسمی اهدا میگردد برای افراد باسواد، کم سواد و بی سواد در قالب یک یا چند مهارت میباشد.

## فصل دوم

### شرایط جذب مهاجرین عودت کننده اتباع کشور در مراکز آموزشی تعلیمات تخنیکی و مسلکی

### دارنده گان اسناد تعلیمی تائید شده

#### ماده سوم

آنعده مهاجرین عودت کننده که اسناد تعلیمی کامل و تائید شده از مراجع مربوطه را دارند برویت سوابق تعلیمی و اسناد دست داشته شان مطابق اصول بعد از ارزیابی و معادلت زمینه آموزش های تخنیکی، مسلکی و حرفوی مساعد میگردد.

### دارنده گان اسناد تعلیمی تائید نشده

#### ماده چهارم

آنعده مهاجرین عودت کننده که اسناد تعلیمی شان از طریق مراجع مربوطه طی مراحل و تائید نگردیده ولی اسناد مهاجرت دارند در مراکز آموزشی تعلیمات تخنیکی و مسلکی با توجه به شرایط ذیل زمینه فراگیری آموزش های تخنیکی، مسلکی و حرفوی برای شان مساعد میگردد:

1. اسناد تائید شده مهاجرت از سوی وزارت امور مهاجرین و عودت کننده گان داشته باشند.
2. تذکره تابعیت افغانستان را داشته باشند.
3. سن و سال داوطلبان در برنامه های تعلیمات تخنیکی و مسلکی در دوره های مختلف آموزشی مدنظر گرفته نمیشود.
4. آنعده مهاجرین عودت کننده اتباع افغانستان که تذکره تابعیت افغانستان را نداشته باشند به اساس اسناد تائید شده مهاجرت شان زمینه آموزش در برنامه های تعلیمات تخنیکی و مسلکی برای شان مساعد میگردد و جهت اخذ

اخیستو په موخه ورته د (یو تعلیمي سمستر) موده وخت ورکول کیږي.

5. د تعلیمي اسنادو بشپړولو په موخه تر یو تعلیمي سمستر پورې له متقاضي تعهد اخیستل کیږي.

**د کډوالۍ اسنادو لرونکي (د تعلیمي اسنادو نه لرونکي)**

**پنځمه ماده**

هغه راستانه شوي کډوال چې هیڅ تعلیمي سند نلري او د کډوالۍ تأیید شوي اسناد ورسره وي، هغوی ته د تخنیکي، مسلکي او حرفوي زده کړو زمینه په لاندې ډول مساعدیږي:

1. پرته له دې چې تعلیمي سوابقو ته پام وشي، د مسلکي او اقتصادي مهارتونو د چټک ترلاسه کولو په موخه په لنډمهاله ښوونیزو حرفوي برنامو کې شاملیږي.
2. هغه راستانه شوي کډوال چې له هیواد نه بهر په تخنیکي او مسلکي برخه کې د زده کړو ادعا کوي، له ارزونې او د ټولګي او سمستر له تثبیت وروسته د تحصیل د دوام لپاره په اړوند سمستر او ټولګي کې شاملیږي.

**د کډوالۍ اسنادو نه لرل**

**شپږمه ماده**

هغه راستانه شوي کډوال چې د کډوالۍ اسناد ونلري، د کډوالۍ اسنادو د تأیید لپاره یې هغوی په ولایاتو کې د تختیکي او مسلکي زده کړو اړوندو آمریتونو لخوا او په مرکز کې د متعلمینو او محصلینو چارو ریاست لخوا اړوندو ادارو ته معرفي کیږي او د یادو مراجعو له تأییدي وروسته د دغه طرزالعمل د موادو له مخې ورته د تخنیکي او مسلکي زده کړو زمینه برابریږي.

**د سویې تثبیت**

**اوومه ماده**

د هغو راستانه شویو کډوالو چې د نهم او دولسم ټولګي سویه یې یې د پوهنې وزارت لخوا تثبیت او تأیید شوې وي، د شمولیت او فراغت لایحې د احکامو له مخې د تخنیکي او مسلکي زده کړو په لسم او دیارلسم ټولګي کې یې د شمولیت زمینه برابریږي.

تذکره تابعیت برای شان (مدت یک سمستر تعلیمی) وقت داده میشود.

5. اخذ تعهد متقاضی مبنی بر طی مراحل اسناد تعلیمی الی یک سمستر درسی.

**دارنده گان اسناد مهاجرت (فاقد اسناد تعلیمی)**

**ماده پنجم**

آنعده از مهاجرین عودت کننده که هیچ سند تعلیمی نداشته باشند و اسناد مهاجرت تائید شده دارند طور ذیل زمینه آموزش های تعلیمات تخنیکی، مسلکی و حرفوی برای شان مساعد میگردد.

1. بدون درنظرداشت سوابق تعلیمی در برنامه های حرفوی کوتاه مدت به منظور فراگیری مهارت های مسلکی و زود رس اقتصادی شامل میگردند.
2. آنعده مهاجرین عودت کننده که در رشته های تعلیمات تخنیکی و مسلکی، خارج از کشور ادعای متعلم و یا محصل بودن را داشته باشند از صنف دهم الی صنف چهاردهم رشته های تخنیکی و مسلکی بعد از ارزیابی و تثبیت صنف و سمستر شامل صنوف و سمستر مربوطه جهت ادامه تحصیل میشوند.

**نداشتن اسناد مهاجرت**

**ماده ششم**

آنعده مهاجرین عودت کننده اتباع کشور که اسناد مهاجرت نداشته باشند از طریق آمریت های تعلیمات تخنیکی و مسلکی در ولایات و در مرکز از طریق ریاست امور متعلمین ومحصلین جهت تائیدی مهاجرت شان به ادارات مربوطه معرفی میگردد و بعد از تائیدی ادارات مربوطه مطابق مواد این طرزالعمل زمینه آموزش های تعلیمات تخنیکی و مسلکی برای شان فراهم میگردد.

**تثبیت سویه**

**ماده هفتم**

آنعده مهاجرین عودت کننده که صنف نهم و دوازدهم شان از طریق وزارت محترم معارف تثبیت سویه و تائید میگردد طبق احکام لایحه شمولیت و فراغت زمینه شمولیت شان در صنوف دهم و سیزدهم در مراکز تعلیمات تخنیکی و مسلکی فراهم میگردد.

**د رشتو نشتون**

**اتمه ماده**

هغه راستانه شوي کډوال زده کوونکي چې له هیواد نه بهر یې په تخنیکي او مسلکي برخه کې زده کړې کړې وي، د تعلیمي اسنادو له وړاندې کولو وروسته که چیرې تعلیمي رشتې یې د تخنیکي او مسلکي زده کړو اداره کې شتون ونلري، د تعلیمي او تحصیلي نظارت او ارزونې ریاست لخوا له ارزونې او د مضامینو د تفاوت له ازموینې اخیستو وروسته په ورته رشتو کې د زده کړو د دوام په موخه په مرکز کې د متعلمینو او محصلینو چارو ریاست او په ولایاتو کې د اړوندو تخنیکي او مسلکي زده کړو آمریتونو لخوا د مضمونو د توپیر ازموینې ترسره کول، طی مراحل او معرفي کیږي.

## دریم څپرکی

### د ارزونې او د ټولګي، سمستر او تعلیمي اسنادو د تثبیت کمیسیون

**مرکزي کمیسیون**

**نهمه ماده**

په مرکز کې د ارزونې او د ټولګي، سمستر او تعلیمي اسنادو د تثبیت کمیسیون ترکیب په لاندې ډول ټاکل کیږي:

1. د تعلیمي او تحصیلي څارنې او ارزونې رئیس د کمیسیون رئیس په توګه.
2. د متعلمینو او محصلینو چارو ریاست استازی د غړي په توګه.
3. د نصاب او ښوونکي روزنې ریاست استازی د غړي په توګه.
4. د حرفوي برنامو د تنظیم ریاست استازی د غړي په توګه.
5. د برنامو د تحقیق او تضمین کیفیت ریاست استازی د غړي په توګه.
6. د اړتیا پر مهال د اړوندې رشتې یو استاد د غړي په توګه.

**ولایتي کمیسیون**

**لسمه ماده**

په ولایاتو کې د ارزونې او د ټولګي، سمستر او تعلیمي اسنادو د تثبیت کمیسیون ترکیب په لاندې ډول ټاکل کیږي:

1. د ولایت د تخنیکي او مسلکي زده کړو آمر د کمیسیون د رئیس په توګه.

**عدم موجودیت رشته ها**

**ماده هشتم**

آنعده مهاجرین عودت کننده که متعلم و یا محصل در رشته های تعلیمات تخنیکی و مسلکی خارج از کشور بوده بعد از ارائیه اسناد تعلیمی در صورتیکه رشته های تعلیمی شان در اداره تعلیمات تخنیکی و مسلکی موجود نباشد بعد از ارزیابی و اخذ امتحان تفاوت مضامین توسط ریاست ارزیابی و نظارت تعلیمی و تحصیلی در رشته های مشابه جهت ادامه تحصیل در مرکز از سوی ریاست امور متعلمین و محصلین و در ولایات از طریق آمریت های تعلیمات تخنیکی و مسلکی امتحان تفاوت مضامین اخذ، طی مراحل و معرفی میگردند.

## فصل سوم

### کمیسیون ارزیابی، تثبیت صنف، سمستر و اسناد تعلیمی

**کمیسیون مرکزی**

**ماده نهم**

کمیسیون ارزیابی، تثبیت صنف، سمستر و اسناد تعلیمی در مرکز به ترکیب ذیل تعین میگردد:

1. رئیس ارزیابی و نظارت تعلیمی و تحصیلی به حیث رئیس کمیسیون.
2. نماینده ریاست امور متعلمین و محصلین به حیث عضو.
3. نماینده ریاست نصاب و تربیه معلم به حیث عضو.
4. نماینده ریاست تنظیم برنامه های حرفوی به حیث عضو.
5. نماینده ریاست تحقیق برنامه ها و تضمین کیفیت به حیث عضو.
6. در صورت ضرورت یک تن استاد رشتوی به حیث عضو.

**کمیسیون ولایتی**

**ماده دهم**

کمیسیون ارزیابی، تثبیت صنف، سمستر و اسناد تعلیمی در ولایات به ترکیب ذیل تعین میگردد:

1. آمر تعلیمات تخنیکی و مسلکی ولایت به حیث رئیس کمیسیون.

2. د تعلیمي څارنې او ارزونې عمومي مدیری د غړي په توګه.
3. د اړونده ښوونیز مرکز آمر / تدریسي مدیر د غړي په توګه.
4. یو تن رشتوي استاد د غړي په توګه.

**د مرکزي او ولایتي کمیسیونونو دندې**

**یوولسمه ماده**

1. د تخنیکي او مسلکي زده کړو اداري د ښوونیزو برنامو د مینوالو تشخیص او تثبیت.
2. د راستانه شویو افغان کډوالو د تعلیمي اسنادو ارزونه او معادلت.
3. د رشتې اړوندو پوښتنو چمتو کول او د ازموینې اخیستل.
4. د ازموینې ارزونه او د نتیجې اعلان.
5. د ارزونې د نتایجو لیست ترتیبول او د متعلمینو/ محصلینو چارو ریاست څخه د شمولیت منظوري اخیستل.
6. په اړوندو رشتو او ورته ښوونیزو مرکزونو کې د شاګردانو د معرفي په برخه کې تصمیم نیونه.
7. د (لیسې، انستیټوټ او لنډمهاله حرفوي برنامو) په ښوونیزو دورو کې د کټګوري په اړه تصمیم نیونه.

**تخصصي ژبه**

**دولسمه ماده**

هغه راستانه شوي کډوال چې د هیواد په ملي او رسمي ژبو نه پوهیږي د امکان په صورت کې د هغوی د تعلیمي اسنادو له مخې په یوه بین المللي ژبه یا په هغې ژبه چې زده کړې یې وړاندې کړې دي، ارزول کیږي.

**د ټولګي او سمستر د تثبیت ازموینه اخیستل**

**دیارلسمه ماده**

د لاندې ترتیب له مخې له متقاضیانو ازموینه اخیستل کیږي او د هغوی سویه تثبیت کیږي:

1. د ټولګي او سمستر د تثبیت ازموینه یوازې د رشتې په اساس د تخصصي او مسلکي مضامینو له مخې اخیستل کیږي.
2. د هر مضمون د ټولګي او سمستر د تثبیت ازموینې په نتیجه کې د کامیابۍ نمره لږ تر لږه 50 نمرې ده.

2. مدیر عمومی نظارت و ارزیابی تعلیمی به حیث عضو.
3. آمر/ مدیر تدریسی مرکز آموزشی مربوطه به حیث عضو.
4. یک تن استاد رشتوی به حیث عضو.

**وظایف کمیسیون های مرکزی و ولایتی**

**ماده یازدهم**

1. تثبیت و تشخیص علاقمندان برنامه های آموزشی تعلیمات تخنیکی و مسلکی.
2. ارزیابی و معادلت اسناد تعلیمی مهاجرین عودت کننده اتباع افغانستان.
3. تهیه سوالات مطابق رشته و اخذ امتحان.
4. ارزیابی امتحان و اعلان نتیجه.
5. ترتیب لیست نتایج ارزیابی و اخذ منظوری شمولیت از ریاست امور متعلمین ومحصلین.
6. تصمیم گیری در حصه معرفی شاگردان در رشته های مرتبط و مشابه مراکز آموزشی.
7. تصمیم‌گیری در حصه کتگوی‌های بخش آموزشهای دوره های (لیسه، انستیتوت و برنامه های حرفوی کوتاه مدت)

**زبان تخصصی**

**ماده دوازدهم**

آنعده از مهاجرین عودت کننده که به لسان های رسمی و ملی کشور بلدیت نداشته باشند در صورت امکان مطابق لسان که در آن آموزش دیده اند و یا مطابق زبان های با اعتبار بین المللی برویت اسناد تعلیمی مورد ارزیابی قرار می گیرند.

**اخذ امتحان تثبیت صنف و سمستر**

**ماده سیزدهم**

از متقاضیان به ترتیب ذیل امتحان اخذ و سویه آنها تثبیت میگردد:

1. امتحان تثبیت صنف و سمستر صرف از مضامین تخصصی و مسلکی مطابق رشته اخذ میگردد.
2. نمره کامیابی در نتیجه امتحان تثبیت صنف و سمستر هر مضمون حد اقل 50 نمره میباشد.

3. د درسونو پیل د ټولګي او سمستر له تثبیت او ارزونې وروسته د هر ولایت د اقلیمي ځانګړتیا (تودو، سړو او ډېرو سړو ولایتونو) له مخې تنظیمېږي.
4. د ځانګړو زده کړو (روښانه زړونو او نه اوریدونکو) ښوونیزو مرکزونو کې د راستانه شویو کډوالو شمولیت د اړوندې لایحې له مخې تنظیمیږي.
5. د راستانه شویو کډوالو د شمولیت او فراغت طی مراحل د درسونو له بشپړېدو وروسته د اړوندو لوایحو او طرزالعملونو له مخې تنظیمیږي.

## خلورم څپرکی
## متفرقه احکام

**د پروسې څارنه**

**څوارلسمه ماده**

1. په مرکز کې د دې طرزالعمل د احکامو د تطبیق څارنه د تعلیمي او تحصیلي څارنې او ارزونې ریاست او د کابل ولایت د تخنیکي او مسلکي زده کړو آمریت له مسوولیتونو څخه دی.
2. او په ولایاتو کې د تخنیکي او مسلکي زده کړو د ولایتي آمریتونو مسوولیت دی.

**تدابیر**

**پنځلسمه ماده**

1. د دې طرزالعمل احکام یوازې د راستانه شویو افغان کډوالو په چارو کې د تطبیق وړ دي.
2. د کاري پروسې پرمهال که چیرې د دې طرزالعمل په موادو کې د تطبیقي موضوعاتو وړاندوینه نه وي شوې، د ولایاتو د تخنیکي او مسلکي زده کړو آمریتونه د حل لارې موندلو په موخه مرکزي ادارې ته هم مهاله رسماً خبر ورکوي.
3. د لزوم دید پر مهال ذیصلاح مقامات په اړونده برخه کې په هم مهاله توګه لازمې لارښوونې ورکوي.

3. آغاز دروس بعد از ارزیابی، تثبیت صنف و سمستر مطابق خصوصیت اقلیمی ولایات کشور( گرم سیر، سردسیر و نهایت سردسیر ) تنظیم میگردد.
4. شمولیت مهاجرین عودت کننده در مراکز آموزشی تعلیمات خاص ( روشندلان و ناشنوایان ) طبق لایحه مربوطه تنظیم میگردد.
5. طی مراحل شمولیت و فراغت مهاجرین عودت کننده بعد از سپری شدن دروس مطابق لوایح و طرزالعمل های مربوطه تنظیم میگردد.

## فصل چهارم
## احکام متفرقه

**نظارت از پروسه**

**ماده چهاردهم**

1. نظارت از تطبیق احکام این طرزالعمل در مرکز از مسئولیت های ریاست ارزیابی و نظارت تعلیمی و تحصیلی و آمریت تعلیمات تخنیکی و مسلکی ولایت کابل میباشد.
2. و در ولایات مسئولیت آمریت های تعلیمات تخنیکی و مسلکی ولایات میباشد.

**تدابیر**

**ماده پانزدهم**

1. احکام این طرزالعمل صرف در امور مهاجرین عودت کننده اتباع افغانستان قابل تطبیق است.
2. در جریان پروسه کاری در صورتیکه در مواد این طرزالعمل موضوعات تطبیقی پیش بینی نشده باشد آمریت های محترم تعلیمات تخنیکی و مسلکی ولایات عندالموقع اداره مرکزی را جهت دریافت راه حل رسماً در جریان قرار میدهد.
3. در صورت لزوم دید مقامات ذیصلاح در زمینه عندالموقع هدایات لازم اصدار خواهد یافت.

**انفاذ**

**شپاړسمه ماده**

دا طرزالعمل په څلورو څپرکو او شپاړسو مادو کې ترتیب شوې او د تخنیکي او مسلکي زده کړو ادارې د مقام له منظوري وروسته نافذ دی.

**انفاذ**

**ماده شانزدهم**

این طرزالعمل در چهار فصل و شانزده ماده ترتیب گردیده بعد از منظوری مقام اداره تعلیمات تخنیکی و مسلکی نافذ میباشد.

**ترتیب کوونکي:**

| | | | |
|---|---|---|---|
| مولوی دادالحق<br>آمر امور مکاتب | مسلک شناس سید حفیظ الله نهضتیار<br>کارشناس نظارت و ارزیابی تعلیمی و تحصیلی | نصیر احمد حلیم<br>مدیر عمومی ثبت و ایجاد حرفه | محمد صادق وردک<br>عضو مسلکی |

| | | |
|---|---|---|
| مولوی عبدالودود عمر<br>رئیس ارزیابی و نظارت تعلیمی و تحصیلی | مفتی سید احسان الله قاسمی<br>رئیس امور متعلمین و محصلین | مسلک فهم احمد صمیم یعقوبی<br>کارشناس امور تخنیکی و مسلکی |

**تائید دی**

**مولوی غلام سعید احساس**
**معاون امور تخنیکی و مسلکی**

طرزالعمل جذب دانش آموزان مهاجرین عودت کننده اتباع افغانستان در برنامه های آموزشی تعلیمات تخنیکی و مسلکی که از جانب معاونیت امور تخنیکی و مسلکی ترتیب گردیده منظور است.

**مولوی غلام حیدر شهامت**
**سرپرست اداره تعلیمات تخنیکی ومسلکی**